

د ریـاست الـوزراء
اقتصادي معاونیت

# میاشتنۍ

کـنـه ۶

دوهم کال - ۱۴۴۵ صفرالمظفر





# آبادي

- ترکیې ته د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال سفر
- د کابل ښار تر ځمکه لاندې اوبو کمښت؛ لاملونه او حل‌لارې
- اهمیت شاهراه ها و سرک ها و کارکرد امارت اسلامی

## گرانو هېوادوالو!

په افغانستان کې نوي سیاسي تحول دې ته لار هواره کړه چې د افغانستان خلک له سیاسي، نظامي، اقتصادي او فرهنګي نظره خپلې ټولې چارې په خپلواکه توګه په لاس کې واخلي.

د سیاسي ثبات تر رامنځته کېدو وروسته اقتصادي وده او پرمختګ مهمه او حیاتي موضوع ګڼل کېږي، چې د یوه هېواد په بیارغونه او ښېرازۍ کې رول لري، ترڅو خلک له فقر، بېکارۍ او تنګلاسۍ څخه وژغوري. په همدې توګه د افغانستان د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په ټول توان هڅه کوي، چې د خپل ولس اقتصادي ستونزو ته د پای ټکی کېږدي او د هېواد اقتصاد د بهرنیو مرستو پر ځای یوازې پر خپلو پرېمانه کورنیو سرچینو متکي کړي.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

@FDPM_AFG
dpmea.gov.af
@FDPM_AFG

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست

بسم الله الرحمن الرحيم

# آبادي

۶ گڼه

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
میاشتنۍ

**د امتیاز خاوند:** د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

**کتنپلاوی:** مولوي سید علي، مولوي ذبیح الله، مولوي عبدالله عزام، امان الله حنیفي او فضل ولي شیراني

**مسئول مدیر:** مولوي محمد آصف

**مرستیال:** احمدشاه راشد

**ډیزاینر:** عطاءالرحمن سعید

**فوټوژورنالیست:** سید عشرت رحمتي

**چاپ:** بهیر مطبعه



پته: مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل

ټیلیفون: 0202107500

برېښنالیک:media@dpmea.gov.af

وېبپاڼه: dpmea.gov.af



- د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.
- استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مآخذ مجاز است.

# لړلیک


سـرلـیـکـنـه ۱

د اقتصادي او ملي تدارکاتو کمېسیونونو غونډې ۲- ۱۰

اعلامیه معاونیت اقتصادی در پیوند به ... ۱۱

د پـروژو پـرانیستـه ۱۲- ۲۲

لیدنې او سفرونه ۲۳- ۳۱

د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې ۳۲- ۴۶

د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پیغامونه ۴۷- ۴۸

انـګلیسـي بـرخـه ۴۹- ۵۶



# سرليکنه


د اسلامي امارت د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په دې وروستيو کې ترکيې هېواد ته سفر وکړ. په دې سفر کې نوموړي د ترکيې د بهرنيو چارو وزير هاکان فيدان، د ترکيې د بهرنۍ سوداګرۍ بورډ (DEIK) له رئيس نايل اولپک او د دغه هېواد د سوداګرۍ له وزير عمر بولات سره وکتل. دغه راز يې په دغه هېواد کې د مېشتو افغان پانګوالو له لوري په جوړ شوي کنفرانس او د افغانستان د سوداګرۍ او صنعت خونې او د ترکيې د صنعت‌کارانو او سوداګرو د غير دولتي ټولنې موسياد (MUSIAD) له لوري په جوړه شوې غونډه کې ګډون هم وکړ. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال له يادو چارواکو سره پر دوه اړخيزو اقتصادي اړيکو او دغه راز په افغانستان کې د پانګونې له پاره د شته فرصتونو په اړه هر اړخيزې خبرې وکړې چې د ترکي چارواکو له لوري په افغانستان کې د پانګونې په برخه کې د ترکي پانګوالو د هڅونې ډاډ ورکړل شو. په همدې ډول د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په جوړو شويو غونډو کې له افغان او ترکي پانګوالو وغوښتل چې دا مهال افغانستان د پانګونې له پاره تر ټولو مناسب ځای دی او پانګوال له کومې ستونزې پرته کولای شي پانګونه وکړي.

هغه اهميت ته په کتو سره چې اقتصاد په نړيوالو اړيکو او تحولاتو کې پيدا کړی دی، هېوادونه هڅې کوي تر څو يو له بل سره خپلمنځي اقتصادي او سوداګريزې اړيکي نږدې کړي. د افغانستان اسلامي امارت هم له وروستيو سياسي تحولاتو وروسته پر دې توانيدلی چې د ګاونډيو په ګډون د سيمې او يو شمېر نورو هېوادونو سره خپلو سوداګريزو او اقتصادي اړيکو ته پراختيا ورکړي. دا چې افغانستان ښه اقتصادي ظرفيت لري؛ نو له دې امله کولای شي لومړی خپله او بيا د يادو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي اړيکو ترڅنګ د سوداګرۍ د پرمختګ په برخه کې مهم رول ترسره کړي. اسلامي امارت دې اهميت ته په کتو هڅه پيل کړې ده چې د افغانستان له جيوپولېټيک او جيو ايکونوميک موقعيت څخه هم په خپله او هم د ګاونډيو او سيمې هېوادونو په ګټه استفاده وکړي. په دې برخه کې اسلامي امارت ته تر ټولو مهمه داده چې په افغانستان کې د پانګونې له پاره د موجوده فرصتونو څخه کار واخلي او په دې برخه کې د کورنيو پانګوالو ترڅنګ بهرني پانګوال هم پانګونې ته وهڅوي. د پانګونې په برکت افغانستان کولای شي د سوداګرۍ د پراختيا ترڅنګ په اقتصادي برخه کې پرمختګ وکړي.

ترکيې ته د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سفر موخه هم دا وه چې هلته مېشت افغان او ورسره ترکي پانګوال دې ته وهڅوي چې په افغانستان کې د کانونو، برېښنا، مخابراتو، کرنې، صنعت او دې ته ورته نورو سکټورونو کې پانګونه وکړي. ځکه اوسمهال په افغانستان کې د پانګونې له پاره فرصتونه هم شته او امکانات يې هم برابر شوي دي. هيله داده چې دغه پانګوال به له دې موقع ګټه پورته کړي او دلته به پانګونه وکړي. که چېرې په پورتنيو سکټورونو کې پانګونه وشي، نو له يوه لوري به دغه سکټورونه پراختيا ومومي او له بل لوري به د هېواد د اقتصادي پرمختګ ترڅنګ سوداګري او ترانزيټ هم وغوړېږي. په دې سره به هېواد د اقتصاد په برخه کې خپلواک او افغانستان به د اسلامي امارت تر چتر لاندې نور دې ته اړ نه وي چې د اقتصادي ستونزو د هوارۍ له پاره نورو نړۍ ته لاس اوږد کړي.



# د اقتصادي
# او ملي تدارکاتو کمېسیونو
# غونډې



**اقتصادي کمېسیون؛**


## د کنړ ولایت ماڼوګي ولسوالۍ برېښنا بند پاتې چارې دې په ټاکلې موده کې بشپړې شي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم پر ټاکل شوو موضوعاتو بحث وشو. په غونډه کې تر هراړخیز بحث وروسته پرېکړه وشوه چې د کنړ ولایت د ماڼوګي ولسوالۍ د برېښنا بند د پاتې چارو د بشپړولو لپاره به د مالیې وزارت د قراردادي شرکت پاتې انوایس ورکوي او قراردادي شرکت مکلف دی چې د یاد انوایس له اخیستلو سره سم د خپلو مقروضینو پیسې هم ورکړي. د کنړ ولایت د ماڼوګي ولسوالۍ برېښنا بند کارونه ۹۷,۷ سلنه ترسره شوي او پاتې هغه به یې هم په نږدې راتلونکي کې بشپړ شي. دغه بند د ۲,۱ مېګاواټه برېښنا د تولید ظرفیت لري چې ۴۰۰۰ کورنیو ته به د اړتیا وړ برېښنا برابره کړي. د اقتصادي کمېسیون له لوري د صنعت او سوداګرۍ وزارت په مشرۍ؛ د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ، د کور او ښار جوړولو او اقتصاد وزارتونو څخه ګډې جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، چې د بوستان سبز کرنیز او مالدارۍ شرکت د بېرته فعالولو او حقوقي حیثیت معلومولو په اړه د دغه شرکت له ونډه‌والو سره ناستې وکړي او که چېرې ونډه‌وال نشي حاضرېدی، د هغوی له قانوني صلاحیت لرونکو استازو سره دې ناستې ترسره او د بېرته فعالولو لپاره یې دې جدي هڅې وشي.









# د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه ترسره او له اجنډا سره سم پر ټاکل شوو موضوعاتو بحث وشو

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه د روان لمریز کال د اسد میاشتې په ۷مه نېټه د شنبې په ورځ په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم پر ټاکل شوو موضوعاتو بحث وشو. د اقتصادي کمېسیون په یاده نوبتي غونډه کې د اوبو او انرژۍ وزارت په مشرۍ؛ مالیې وزارت، کانونو او پټرولیم وزارت، صنعت او سوداګرۍ وزارت او ملي پراختیا شرکت څخه جوړې شوې ګډې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د حکم مطابق د کانونو په بدل کې د سرپل ولایت د سلطان ابراهیم بند او همدارنګه د ارزګان ولایت د چینارتو ولسوالۍ اړوند د آغا جان بند د جوړولو لپاره عملي تګلاره جوړه او د نهایي تصمیم په موخه یې د اقتصادي کمېسیون راتلونکي مجلس ته وړاندې کړي. د سلطان ابراهیم او آغا جان بندونو د جوړولو قرارداد د ملي پراختیا شرکت سره شوی، چې په نږدې راتلونکي کې به یې چارې پیل شي.

همدارنګه په غونډه کې تر هر اړخیز بحث وروسته پرېکړه وشوه، چې د فراه، هرات او نیمروز ولایتونو په بندرونو کې ترانشیپ بند دی او نفتي توکي به یوازې د ترانزیټ له لارې افغانستان ته واردېږي. د اقتصادي کمېسیون د پرېکړې پر اساس، افغان ترانسپورټي ټانکرونه کولای شي افغانستان ته د نفتي توکو ترانزیټ ترسره کړي.

د غونډې په پای کې د عدلیې وزارت او د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست له لوري د عوایدو د زیاتوالي او ښه مدیریت په موخه جوړه شوې طرحه منظور شوه. په دغه طرحه کې د عدلیې وزارت د شته عایداتي منابعو د بیا را ژوندي کولو لپاره تګلاره ترتیب شوې او همدا راز د دغه وزارت په چوکاټ کې ۱۴ نوي عایداتي منابع لټول شوي، چې له مخې به یې د عدلیې وزارت په کلنیو عوایدو کې د پام وړ زیاتوالی راشي.

# د هرات ولایت د غوریانو ولسوالۍ د **اوسپنې کان** د څلورو بلاکونو او همدا راز د غور ولایت د تولک ولسوالۍ د **سرپو کان** د یو بلاک د استخراج او پروسس ګټونکي شرکتونه اعلان شول

د افغانستان اسلامي امارت د اقتصادي کمېسیون په لارښوونه د کانونو او پټرولیم وزارت له لوري د هرات ولایت د غوریانو ولسوالۍ د اوسپنې کان څلور بلاکونه د استخراج لپاره آزادې داوطلبۍ ته وړاندې شوي وو، چې د هراړخیزې او شفافې پروسې له ترسره کېدو وروسته یې لاندې شرکتونه ګټونکي اعلان شول:




۱
**وطن درخشان شرکت چې آذاران صنعتي سازه ایراني شرکت یې ۷۰ سلنه ونډوال دی، د ۶۴،۶ نمرو په اخیستلو سره د غوریانو ولسوالۍ د اوسپنې کان د لومړي بلاک ګټونکی دی.**

۲
**ساحل شرق میانه شرکت چې دره نور افغاني شرکت او ایپکول ترکي شرکت یې هر یو ۱۵ سلنه ونډوال دي، د ۶۱ نمرو په اخیستلو سره د غوریانو ولسوالۍ د اوسپنې کان د دوهم بلاک ګټونکی دی.**

۳
**شمش ملي شرکت چې GBM او AD Resources انګلستاني شرکتونه یې ۳۵ سلنه ونډوال دي، د ۶۸،۵ نمرو په اخیستلو سره د غوریانو ولسوالۍ د اوسپنې کان د درېیم بلاک ګټونکی دی.**

۴
**باختر فولاد شرکت چې احیای سپاهان او پارسیان ایراني شرکتونه یې ۴۹ سلنه ونډوال دي، د ۶۰،۵۰ نمرو په اخیستلو سره د غوریانو ولسوالۍ د اوسپنې کان د څلورم بلاک ګټونکی دی.**

د یادو بلاکونو د ګټونکو شرکتونو ډېره ونډه افغان شرکتونه جوړوي چې له بهرنیو شرکتونو سره به په ګډه دغه بلاکونه په مسلکي ډول استخراج او پروسس به یې په کور دننه ترسره کوي.

د غور ولایت د تولک ولسوالۍ د سرپو کان له څلورو بلاکونو څخه د یو بلاک ګټونکی افغان انوېسټ شرکت دی چې دوی ته په قرارداد ورکول کېږي. ددې کان عواید به په عام‌المنفعه پروژو کې په مصرف رسېږي، چې ډېره برخه به یې په کور دننه د برېښنا تولید او ورسره اړوند چارو ته ځانګړې کېږي.

د یادونې وړ ده، چې لسګونو شرکتونو د داوطلبۍ په آزاده پروسه کې ګډون کړی و، چې د کانونو او پټرولیم وزارت له لوري د جوړو شویو تخنیکي کمېټو سربېره د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په لارښوونه د بین الوزارتي کمېټو استازیو په ګډون د ټولو ګډون کوونکو شرکتونو پروپوزلونه ارزول شوي دي، چې د کانونو او پټرولیم وزارت د پروپوزلونو د ارزونې کمېټې د معیارونو په پام کې نیولو سره له یوې شفافې پروسې وروسته پورته ذکر شوي شرکتونه ګټونکي اعلان شول.

همدارنګه له داوطلبۍ وروسته ټولو هغو شرکتونو چې د داوطلبۍ د لېوالتیا د څرګندولو غوښتنې او د پروپوزل غوښتنې مرحلو کې یې ګډون کړی و، د داوطلبۍ د پروسې پر څرنګوالي او د پروپوزلونو د ارزونې پر پروسې باندې نیوکې درلودې؛ د دوی شکایتونو ته د رسېدنې په موخه د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت لخوا د اقتصاد وزارت په مشرۍ بله تخنیکي کمېټه وټاکل شوه. دې کمېټې د خپل کار په جریان کې له ټولو اعتراض کوونکو شرکتونو د دوی شکایتونه په کتبي ډول وغوښتل، چې د کانونو او پټرولیم وزارت د پروپوزلونو د ارزونې کمېټې لخوا ورته ځوابونه وویل شول او د دوی قناعت حاصل شو.

د هرات ولایت د غوریانو ولسوالۍ د اوسپنې کان د څلورو بلاکونو او همدا راز د غور ولایت د تولک ولسوالۍ د سرپو کان د یو بلاک د قراردادونو منظوري عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله آخندزاده (حفظه الله) ورکړې ده او د دې کانونو د داوطلبۍ او قرارداد تفصیلي معلومات وخت پر وخت د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه له دفتر سره هم شریک شوي دي.



کمیسیون اقتصادی؛

# بورد مشورتی اقتصادی افغانستان ایجاد می شود

به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء جلسه نوبتی کمیسیون اقتصادی در قصر مرمرین تدویر و طبق آجندا بر موضوعات مورد نظر بحث شد.

در نشست بعد از بحث همه‌جانبه طرح ایجاد بورد مشورتی اقتصادی افغانستان با در نظرداشت نظریات وزارت خانه های عضو کمیسیون اقتصادی تایید شد. بورد مشورتی اقتصادی افغانستان در مورد موضوعات مهم اقتصادی در وقت ضرورت به حکومت مشوره های لازم خواهد داد.

در این بورد استادان پوهنتون های افغانستان، متخصصین مسایل اقتصادی و نماینده گان تاجران و صنعت‌کاران عضویت خواهد داشت.



در این نشست کمیسیون اقتصادی به کمیته متشکله از نماینده های وزارت های صنعت و تجارت، زراعت، آبیاری و مالداری، صحت عامه و شاروالی کابل به ریاست اکادمی علوم افغانستان وظیفه سپرده شد تا مطابق به اصول شرعی رهنمود ذبح مرغ ها را تهیه و سپس جهت استفتاء به دارالافتاء مرکزی پیشکش نمایند. برای اکادمی علوم هدایت داده شد تا بعد از منظوری، رهنمود مورد نظر را به شرکت های ذبح مرغ ها ابلاغ دارد و کمیته حمایت از مستهلکین پروسه تطبیق رهنمود مذکور را دوامدار نظارت نماید.



همچنان در جلسه به ارزش ۴۱۴ میلیون افغانی قرارداد های مشارکتی دو پروژه شاروالی کابل در پرنسیپ منظور گردید و به شیخ شهاب الدین دلاور سرپرست وزارت معادن و پترولیم و مولوی حمدالله نعمانی سرپرست وزیر شهرسازی و مسکن و نماینده گان شاروالی کابل وظیفه سپرده شد تا قرارداد های مورد نظر را از نگاه شرعی ارزیابی نمایند و نتیجه تحقیق خویش را با کمیسیون اقتصادی شریک سازند.



در ختم نشست به شمول نماینده معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء به کمیته مشترک متشکله از وزارت‌های صنعت و تجارت و اقتصاد به ریاست معین وزارت زراعت، آبیاری و مالداری؛ وظیفه داده شد تا به هدف دیدن از پروسه انتقال چوب خشک قابل سوخت از جنگل های ولایات خوست، پکتیا، پکتیکا و لوگر به ولایت های دیگر به ساحه سفر نمایند. کمیته نامبرده در هماهنگی با مسوولین ولایتی ولایت های مورد نظر و با در نظرداشت نظریات آنها گزارش خود را به جلسه آینده کمیسیون اقتصادی ارایه دارند.



# د ملي تدارکاتو کمېسیون د ۹ پروژو قراردادونه منظور کړل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. د ملي تدارکاتو کمېسیون په یاده نوبتي غونډه کې له اجنډا سره سم پر ۲۴ پروژو مفصل بحث وشو، چې د ۹ پروژو قراردادونه یې منظور، د ۲ پروژو قراردادونه لغوه او د پاتې نورو پروژو په اړه ګډو کمېټو ته دنده وسپارل شوه، څو یې تخنیکي ارزونه ترسره او خپل راپور د ملي تدارکاتو کمېسیون راتلونکې غونډې ته وړاندې کړي. په منظور شوو پروژو کې د کانونو او پټرولیم وزارت، لوړو زده کړو وزارت، ټولګټو وزارت، پوهنې وزارت، افغان ملي بانک، د افغانستان برېښنا شرکت او کابل ښاروالۍ بېلابېلې پروژې شاملې دي، چې ټولیز ارزښت یې سلګونو میلیونو افغانیو ته رسېږي.



# د ملي تداركاتو كمېسيون له لوري

## د شاوخوا يو ميليارد افغانيو په ارزښت بېلا بېلې پروژې منظورې شوې

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تداركاتو كمېسيون نوبتي غونډه د سرطان مياشتې په ۲۶مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ كې ترسره او له اجنډا سره سم د وړاندې شوو پروژو په اړه بحث وشو. د ملي تداركاتو كمېسيون يادې غونډې ته ۱۸ پروژې د بحث لپاره وړاندې شوې چې له جملې يې د ۱۶ پروژو قراردادونه منظور او د پاتې ۲ وځنډول شول. منظور شوې پروژې د ملي دفاع وزارت، ماليې وزارت، د اوبو او انرژۍ وزارت، لوړو زده كړو وزارت، د افغانستان بانک، د افغانستان برېښنا شركت، كابل ښاروالۍ او د افغانستان د گاز او نفتو دولتي شركت اړوند دي، چې ټوليز ارزښت يې شاوخوا يو ميليارد افغانيو ته رسېږي. د غونډې په پای كې د منظور شوو پروژو له جملې د ځينو پروژو اړوندو سكټوري وزارتونو او ادارو ته لازمې سپارښتنې وشوې څو په ټاكلي وخت خپلې پروژې د بحث او منظورۍ لپاره ملي تداركاتو كمېسيون ته راولېږي او په دغه برخه كې ټول تداركاتي پړاوونه په ښه ډول طی مراحل كړي.




انفوگرافيک

# اعلامیۀ معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء ا.ا.ا در پیوند به
# گزارش اخیر بانک جهانی پیرامون وضعیت اقتصادی افغانستان!

از سوی بانک جهانی گزارشی مبنی بر وضعیت اقتصادی افغانستان در ۳۱ ام جولای ۲۰۲۳ میلادی منتشر گردیده که در این گزارش واقعیت های در ارتباط به وضعیت اقتصادی افغانستان آمده است. معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان از واقعیت های منعکس شده در این گزارش استقبال نموده و به این باور است، که واقعیت ها و موضوعات منعکس شده در گزارش پیرامون رشد اقتصادی کشور تصویر واضحی است که بانک جهانی ارایه نموده است. در این گزارش گفته شده که قیمت مواد خوراکی و نفتی کاهش یافته، ارزش افغانی در برابر اسعار خارجی ثابت باقی مانده است، در کنار صادرات سطح واردات و عواید ملی افزایش یافته، معاش کارمندان دولتی به وقت معینه پرداخت گردیده، در داخل کشور تولید مواد خوراکی افزایش یافته و در حصۀ برداشت پول از بانک ها تسهیلات فراهم گردیده است. امارت اسلامی افغانستان به این باور است که اگر جامعه جهانی به جای تحمیل محدودیت ها بر تعامل مثبت توجه نماید، بی تردید که افغانستان در عرصه اقتصادی بیشتر از پیش پیشرفت خواهد کرد و بار مسؤلیت آن بر دوش جامعه جهانی کاهش خواهد یافت. اگر تمامی سازمان های جهانی مانند بانک جهانی تصویر واقعی از واقعیت های عینی افغانستان را پیشکش نماید، از یک سو جهانیان از وضعیت اقتصادی افغانستان آگاهی حاصل نموده و از جانب دیگر راه تعامل مثبت با امارت اسلامی افغانستان هموار خواهد شد. امارت اسلامی افغانستان از تمامی سازمان ها و ادارات کمک کننده می خواهد که در بازسازی افغانستان سهیم گردند، که در پرتو آن سطح بیکاری کاهش و بر وضعیت اقتصادی کشور بیشتر از این تأثیرات مثبت داشته باشد. به همین شکل از بانک جهانی خواستار آن است تا ضمن نشر واقعیت های عینی پیرامون وضعیت اقتصادی افغانستان آن عده از پروژه های که کار آن نیمه تمام مانده است، تمویل تا امور آن اکمال گردد.





# د پروژو پرانیسته



## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د بخش آباد بند د تونلونو جوړولو چارو پرانیسته وکړه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د بخش آباد بند د تونلونو جوړولو چارو پرانیسته وکړه. په دغو مراسمو کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال سربېره د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست ملا عبداللطیف منصور او یو شمېر نورو مسؤلینو هم حضور درلود. محترم ملا صاحب د بخش آباد بند د پرانیستو مراسمو ته وویل، بخش آباد بند د فراه ولایت لپاره یوه مهمه او حیاتي پروژه ده او مونږ په ټول توان د دغې پروژې په بشپړولو کې د فراه ولس تر څنګ ولاړ یو. دا وعده یوازې په الفاظو کې نه کوو، بلکې په ډېر اخلاص سره به یې چارې په عمل کې بشپړې کړو. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت د فراه ولسونو د ستونزو حل د خپل ځان مسوولیت ګڼي، موږ باید تېر کال هڅه کړې وای چې سږ کال مو د دغه بند اوبه ذخیره کړې وای او ضایع شوې نه وای؛ خو اسلامي امارت ته د افغانستان ډېرې ستونزې په میراث ورپاتې دي، چې د ټولو حل په یو وخت کې ممکن نه دی. د افغانستان اقتصادي زیربناوو بیارغونه ډېر کار ته اړتیا لري او په جدي توګه مې هڅې پیل کړې ترڅو په اقتصادي ډګر کې د ښو تحولاتو شاهدان واوسو. محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال وویل، د فراه ولسونو د اسلامي نظام د راتلو لپاره ډېرې قربانۍ ورکړې دي، دا اوس زموږ مسوولیت دی چې د دوی ستونزو ته رسېدنه وکړو او هغه لویې پروژې ورته بشپړې کړو، چې د دوی اقتصادي ستونزې پرې حل کېدای شي. د بخش آباد بند د پاتې چارو د تکمیلي په برخه کې به له شته امکاناتو څخه استفاده وکړو او له قراردادي شرکت څخه هم غواړو چې په اخلاص او امانتدارۍ سره ورسپارل شوې چارې بشپړې کړي. په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ټول ملت ته ډاډ ورکړ، چې د اسلامي امارت مسوولین د هېواد د آبادۍ او پرمختګ لپاره صادق او ژمن دي. محترم ملا صیب زیاته کړه، له ټول ملت څخه مو هیله دا ده چې د هېواد په بیارغونه کې له خپل حکومت سره اوږه په اوږه ودرېږي. د بخش آباد بند له ښي لوري د ۵۰ کیلومتره او له چپ لوري د ۵۲ کیلومتره کانال په لرلو د ۶۸ زره او ۵۹۰ هکتاره کرنیزې ځمکې د خړوبولو وړتیا لري چې پیل شوې چارې به یې په نېږدې راتلونکي کې بشپړې شي.







**د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند**

## د صنعت اوونۍ لمانځلو په مناسبت

# د کابل نړيوال نندارتون پرانيسته وکړه

د رياســت‌الوزراء اقتصــادي مرســتيال محــترم مــلا عبدالغنــي بــرادر اخوند د صنعت اوونۍ لمانځلو په مناسبت د کابل نړيوال نندارتون پرانيسته وکړه. محترم ملا صاحــب پــه همــدې موخــه جوړو شــوو مراسمو ته وويل، صنعت او توليد د هېواد په اقتصــادي وده کې د مــلا تير حيثيت لري. يو هېواد هغه وخت پرمختګ کولای شي چې قوي صنعت ولري او له دې اړخه نــه يــوازې دا چــې پــر خپل ځان بسـيا واوسي، بلکــې نــورې نړۍ تــه هم خپل توليــدات صادر کړي. لــه بدمرغه اوږدو جګړو او د واکمنانو عدم ژمنتيا او نه ارادې افغانســتان دې ته نه دی پرېښی چې له اقتصــادي اړخــه چټک مزل وکــړي، خو الحمدلله د اسلامي امارت په راتګ سره د هېــواد د اقتصــادي ودې لپاره اســاسي ګامونه اخيستل شوي. محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال زياته کړه، دا چې د صنعت او توليد لپاره برېښــنا اړينه ده، له همدې ځايه ټولو هېوادوالو او په ځانګړې ډول صنعتکارانو ته زېری ورکوم چې ژر به په کور دننه د توليد شــوې کافي برېښــنا څښــتنان واوســو. د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرستيال جوړو شوو مراسمو کې وويــل، هغــه شــوک چې پــه صنعت کې پانګونــه وکــړي او په خپلــو توليداتو کې اســلامي امارت تــه د کميــت او کيفيت تضمين ورکړي، اســلامي امارت به له بهر څخه د هغو شــيانو د تورید د مخنيوي او کورني صنعت ته د بازارموندنې په موخه د خودکفايــی په انــدازه تعرفه لــوړه کړي. محترم ملا عبدالغني بــرادر اخوند په بهر مېشــتو افغان پانګوالو غــږ وکړ چې خپل هېواد ته راستانه شي، دلته پانګونه وکړي او د هېــواد د اقتصــاد او صنعت په رغونه کــې فعالــه ونډه واخــلي. د محــترم ملا صاحب په خبره، اســلامي امــارت د ټولو صنعتکارانو تر څنــګ ولاړ دی او هر ډول ملاتړ يې خپل مسؤليت ګڼي. په پای کې محترم ملا صاحب له هغو ټولو صنعتکارانو ورونــو او خويندو څخه مننــه وکړه چې د هېــواد د اقتصــادي ودې او صنعت ته د پرمختــګ ورکولو لپاره يــې پانګونه کړې.

کابل نړيوال نندارتــون کورنيو توليداتو او محصولاتــو تــه د بازارموندنــې، د مــلي پانګوالو د ملاتړ، د سوداګرو ترمنځ د اړيکو برابرولو او هېوادوالو ته د کورنيو محصولاتو او توليداتو د ورپېژندلو په موخه جوړ شوی و چــې ټولټال پکې ۵۵۰ توليدي فابريکو په ۵۵ بېلابېلو برخو کې خپل محصولات او توليدات ننداري ته وړاندې کړل.

## د هېواد لرې پرتو سيمو ته

# د مخابراتي خدمتونو رسولو قراردادونه لاسليک شول

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزير محترم مولوي نجيب‌الله حقاني په حضور کې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت او خصوصي مخابراتي شرکتونو ترمنځ د ۳۶۵ ميليونو افغانيو په ارزښت په لرې پرتو سيمو کې د مخابراتي خدمتونو رسولو قراردادونه لاسليک شول. محترم ملا صاحب د يادو قراردادونو د لاسليک پر مهال وويل، اسلامي امارت د ملت خدمت د ځان مسووليت ګڼي او په ټول توان هڅه کوي چې هېوادوالو ته د ژوند د نورو برخو ترڅنګ په ښه او لوړ کيفيت مخابراتي خدمتونه هم وړاندې کړي.

محترم ملا صاحب زياته کړه، اسلامي امارت په افغانستان کې د پانګونې لپاره ښه زمينه برابره کړې او د ټولو هغو ملي سوداګرو او پانګوالو د هڅو قدرداني کوي چې د هېواد د اقتصادي ودې په موخه پانګونه کوي. د دغو قراردادونو له مخې به خصوصي مخابراتي شرکتونه د کندهار، نورستان، بدخشان، ارزګان، زابل، کنړ، ننګرهار او کابل کې د ۳۳ سايټونو د جوړېدو له لارې په هغو لرې پرتو سيمو کې چې خلک مخابراتي خدمتونو ته لاسرسی نه لري؛ مخابراتي خدمتونه وړاندې کړي.





د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

# په کابل ښار کې د پنځو پروژو پرانیسته وکړه

د ریاسـت‌الوزراء اقتصـادي مرسـتیال محترم مـلا عبدالغنـي بـرادر اخوند په کابل ښـار کـې د پنځو پروژو پرانیسـته وکړه. محترم ملا صاحب په داسـې حال کـې چـې د کابـل ښـاروال مولـوي عبدالرشـید هم حضور درلود، په همدې مناسبت جوړو شـوو مراسمو ته وویل؛ د یـو هېواد د پرمختګ لپاره امنیت تر ټولو مهم دی، چـې الحمدلله اوسـمهال په ټول افغانستان او په ځانګړي ډول کابل ښار کې وضعیت د پخوا په پرتله ډېر ښه شـوی. کابل ښـاروالي د امنیت راتلو له برکته د کابل ښـار د ښکلا او منظموالي په موخه ډېرې هڅې کوي چې د پخوا په پرتله د ښـار ښه منظمه شـوې، موږ یې ټولې ترسره شـوې هڅې ستایو او ملاتړ یـې کـوو. د ریاسـت‌الوزراء اقتصـادي مرسـتیال د خپلـو خبرو پر مهـال وویل چــې د یادو پـروژو په بشـپړېدو سره به کابل ښـاریانو ته ډېر سهولتونه برابر او د ښار ګڼه ګوڼه به ورسره کمه شي. د دغو پنځـو پروژو له ډلې یې د کابل شـمال- لوېدیـځ نښـلوونکي سـړک د جوړېـدو چـارې عملاً پیل شـوې، چـې د یو نیم کال پـه مـوده کې بـه بشـپړې او ګټې اخیسـتنې تـه وسـپارل شي. د کابـل شــمال- لوېدیځ نښـلوونکی سړک ۷,۵ کیلومتره اوږدوالی او ۳۰ متره سـور لري چــې ۵۳۰ میلیونه افغانۍ لګښـت پرې راځي او لګښت یې هم د کابل ښاروالۍ د کورنیو عوایدو له لارې ورکول کېږي. د یادولو وړ ده چې د یاد سړک په جوړېدو سره به د هېواد شمالي ولایتونه مستقیماً د کابل – هرات لویې ترانزیټي لارې سره ونښلول شي.



## د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري

# د کابل-کندهار لويې لارې له ارغندۍ څخه تر دوراني بازار پورې سړک د قير اچونې چارو پروژه پرانيستل شوه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان لمريز کال د سرطان مياشتې په ۲۴مه نېټه د کابل-کندهار لويې لارې له ارغندۍ څخه تر دوراني بازار پورې سړک د قير اچونې چارو پروژه پرانيستل شوه. په يادو مراسمو کې د رياست‌الوزراء پر اقتصادي مرستيال سربېره د ټولګټو وزارت سرپرست محترم ملا محمد عيسی ثاني، د کابل او ميدان وردګو ولايتي مسوولينو او د خصوصي سکټور يوشمېر استازيو هم حضور درلود. د يادې پروژې د پرانيستو مراسمو ته محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال وويل، چې د هېواد د نورو لويو لارو په پرتله د کابل-کندهار پر لويه لار بيروبار زيات دی. د دې لارې د اړول شوي سړک دواړو خواوو ته پراته کورونه او پر دغه لار تلونکي مسافر د خامه سړک له دوړو ډېر په تکليف دي. موږ له قراردادي شرکتونو څخه غواړو چې ياد سړک څومره ژر ممکن وي، په ښه کيفيت، پوره صداقت او امانتدارۍ سره ورغوي. همدا راز د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه چې قراردادي شرکتونه د ياد سړک په هغو برخو کې چې د جوړېدو چارې يې عملاً جريان لري دواړو خواوو ته پر فرعي سړکونو د عامو هېوادوالو د تلو راتلو پر مهال اوبه واچوي، څو پر دغه لار تلونکو مسافرو او شاوخوا کورونو ته تکليف ونه رسېږي. همدارنګه په غونډه کې د خصوصي سکټور استازيو وويل چې د دې لويې لارې په بيارغېدو سره به د هېواد له جنوب څخه مرکز او بيا شمال ته د سوداګرۍ او ترانزيټ په برخه کې ګڼې آسانتياوې رامنځته شي. د کابل-کندهار لويې لارې د بيارغونې چارې په ۷ برخو وېشل شوې، چې له ارغندۍ تر دوراني بازار پورې سړک يې ۲۷ کيلومتره اوږدوالی، ۱۱ متره پلنوالی او د ۵۰ او ۸۰ مترو په اوږدوالي دوه لوی پلونه او ۶۰ پلچکونه لري، چې شاوخوا يو ميليارد افغانۍ لګښت پرې راځي. دغه سړک د اسلامي امارت په مالي ملاتړ د خصوصي سکټور له لوري په يو کال کې رغول کېږي چې په بشپړېدو سره به يې پر دغه لار تلونکو مسافرو او سوداګريزو توکو په لېږد کې د پام وړ اسانتياوې رامنځته شي.






د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري

# د سالنګونو لویې لارې د بیارغونې چارو پروژه پرانیستل شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د سالنګونو لویې لارې د بیارغونې چارو پروژه د روان لمریز کال د سرطان میاشتې په ۲۱ مه نېټه پرانیستل شوه. په یادو مراسمو کې د ریاست‌الوزراء پر اقتصادي مرستیال سربېره د ټولګټو چارو وزارت سرپرست محترم ملا محمد عیسی ثاني، د پروان او بغلان ولایتي مسوولینو او د خصوصي سکټور استازیو حضور درلود. محترم ملا صاحب د یادې پروژې د پرانیستې په موخه جوړو شویو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، له قوش‌تېپې ملي کانال وروسته دا دوهمه لویه ملي او اقتصادي پروژه ده چې په بشپړېدو سره به یې د هېواد له شمال څخه جنوب ته د تګ راتګ او سوداګرۍ په برخه کې ګڼې آسانتیاوې رامنځته شي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه چې د افغانستان اسلامي امارت په ټول توان سره د دې ملي پروژې بشپړولو ته چمتو دی او په دغه برخه کې قراردادي شرکتونو ته د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکوي. د سالنګونو د بیارغونې پروژه په شمالي او جنوبي سالنګونو کې د افغانستان اسلامي امارت په ملاتړ د خصوصي سکټور له لوري د ۸۰ کیلومترو په اوږدوالي سره د دوه کلونو په موده کې بشپړېږي، چې زرګونو کسانو ته پکې کاري فرصتونه رامنځته کیږي. د سالنګونو لویې لارې په واسطه د هېواد پر ۹ شمالي ولایتونو سربېره څلور لوی سوداګریز بندرونه له مرکز کابل سره وصلیږي. په دغه لویه لار په ورځني ډول زرګونه مسافر وړونکي او بار وړونکي موټر تګ راتګ کوي. پر دغه لاره تلونکي مسافر او موټرچلوونکي خوښ دي چې په بیارغېدو سره به یې شته ستونزې حل شي. همدارنګه په غونډه کې د خصوصي سکټور استازیو وویل، چې په هېواد کې د لویو لارو او په ځانګړې ډول د سالنګونو په بیارغېدو سره به د افغانستان سوداګري او د افغانستان له لارې له مرکزي آسیا څخه سویلي آسیا ته د ترانزیټ په کچه کې د پام وړ زیاتوالی راشي. په پای کې محترم ملا صاحب له قراردادي شرکتونو څخه وغوښتل چې څومره ژر ممکنه وي دغه پروژه په ښه کیفیت، په پوره صداقت او امانتدارۍ سره بشپړه کړي.



محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

# د امام ابو حنيفه (رح) د دوهم ملي او نړيوال نندارتون

## په پرانيست غونډه کې ګډون او وينا وکړه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د امام ابو حنيفه (رح) د دوهم ملي او نړيوال نندارتون په پرانيست غونډه کې ګډون او وينا وکړه. محترم ملا صاحب د ياد نندارتون ګډونوالو ته د خپلو خبرو پر مهال وويل، چې نندارتونونه د يو هېواد صنعتي توليدات او کرنيز محصولات خلکو ته ورپېژني او حکومتونه هم په کور دننه او بهر د بازارموندنې په خاطر نندارتونونه جوړوي. اسلامي امارت هم د افغانستان د صنعتي توليداتو او کرنيزو محصولاتو د معرفي کېدو لپاره په کور دننه او بهر کې د نندارتونونو جوړولو لړۍ پيل کړې ده. محترم ملا صاحب د نندارتونونو ارزښت ته په کتو وويل چې د اسلامي امارت له راتګ وروسته دا تر ټولو لوی نندارتون دی چې تر ۶۰۰ زياتو غرفو کې بېلا بېل صنعتي او کرنيز توکي ننداريې ته وړاندې شوي. محترم ملا صاحب زياته کړه، په دغه نندارتون کې د شانګهای سازمان هم د ګډون غوښتنه کړې ده، چې اسلامي امارت د ياد سازمان دغه اقدام ستايي او هرکلی يې کوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل چې د اسلامي امارت له راتګ سره د امنيت په ټينګېدو په ټول هېواد کې پانګونې او د کانونو را ايستلو ته تر بل هر وخت ښه زمينه برابره شوې او له دې برکته افغانستان تازه د بيارغېدو مرحلې ته داخل شوی. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د مرکزي او سويلي آسيا هېوادونو ته ډاډ ورکړ چې افغانستان د ترانزيټ لپاره تر ټولو خوندي لاره ده او




په دغه برخه کې یې د نورو اسانتیاوو پر رامنځته کېدو سربېره د لویو لارو بیارغونه هم پیل کړې، چې ښه بېلګه یې په دې وروستیو کې د سالنګ او کابل-کندهار لویو لارو د بیارغونې چارو پرانیسته ده. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په هېواد کې دننه د سوداګرۍ پراخېدو او د سوداګرو ستونزو ته د رسېدو په هکله وویل چې په تېر نږدې وخت کې یې په همدې موخه په ارزګان او زابل ولایتونو کې د سوداګرۍ خونې پرانیستې دي او د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې ته یې هدایت وکړ چې په بغلان ولایت کې هم ژر تر ژره د سوداګرۍ خونه پرانیزي او لازم تشکیل ورته برابر کړي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ټولو افغان او بهرنیو پانګوالو ته بلنه ورکړه چې راشي او په افغانستان کې پانګونه وکړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه چې اسلامي امارت له خپل لوري بهرنیو پانګوالو ته ډاډ ورکوي چې له ټولو هغو امتیازاتو به برخمن وي کوم چې افغان پانګوالو ته ورکول کېږي. د امام ابو حنیفه (رح) دوهم ملي او نړیوال نندارتون د اسلامي امارت په ملاتړ د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې له لوري افغاني محصولاتو او تولیداتو ته د بازارموندنې، د ملي پانګوالو ملاتړ، د ملي او نړیوالو سوداګرو ترمنځ د اړیکو برابرولو او هېوادوالو ته د کورنیو تولیداتو او محصولاتو د ورپېژندلو په موخه جوړ شوی، چې په سلګونو غرفو کې بېلا بېل کرنیز او ساختماني توکي، لاسي صنایع، طبي وسایل، درمل او نور ملي محصولات او تولیدات پکې نندارې ته وړاندې شوي وو. د یادولو وړ ده چې په دغه نندارتون کې پر کورنیو صنعتکارانو سربېره د ایران، ترکمنستان، ترکیې، پاکستان او یوشمېر نورو هېوادونو صنعتکارانو هم خپل تولیدات نندارې ته وړاندې کړي وو. د امام ابو حنیفه (رح) دوهم ملي او نړیوال نندارتون د روان لمریز کال د سرطان میاشتې له ۲۵مې نېټې شروع او د همدې میاشتې تر ۳۱مې پورې یې دوام درلود.

# د کابل شهر نو پارک

## د بیارغېدو چارو د پیل پرانیسته وشوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان لمریز کال د اسد میاشتې په ۱۵مه نېټه د کابل شهر نو پارک د بیارغېدو چارو د پیل پرانیسته وکړه. شهرنو پارک ۹،۹ هکټاره مساحت لري چې د خصوصي سکټور له لوري د شاوخوا ۱،۲ ملیارده افغانیو پانګونې سره د ۳ کلونو په موده کې په اساسي ډول رغول کېږي. د شهرنو پارک د بیارغونې په پلان کې تر ځمکه لاندې سوداګریز مرکز، د پارک په څنډه کې سوداګریز کمپلکس، د ښځینه‌وو لپاره ځانګړی سوداګریز مرکز، د فوټسال لوبغالی، تفریحي ځایونه، رستورانټونه، مسجد، د لامبو حوض او د موټرو لپاره پارکینګ په نظر کې نیول شوي، چې د جوړېدو پر مهال به یې سلګونو کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي.



انفوگرافیک

# پارک شهرنو کابل از سوی سکتور خصوصی با حمایت ۱.۱ به شکل اساسی بازسازی می گردد

**موقعیت:**
شهر کابل، ناحیۀ دهم، ساحه شهرنو

**سهمداران:**
شاروالی کابل و شرکت خصوصی

**مصارف مجموعی:**
۱,۲ میلیارد افغانی



**مساحت پارک:**
۹,۹ هکتار


**میعاد اکمال کار:**
سه سال

**مرحله بازسازی:**
در سه مرحله

**تسهیلات پروژه**

پارک تفریحی، میدان فوتسال، مسجد، رستورانت ها، مارکیت تجارتی زیر زمینی، پارکینگ، رستورانت فامیلی، کمپلکس ورزشی، مرکز خاص تجارتی برای خانم ها و کمپلکس تجارتی در گوشه از پارک.

پروژه مذکور بعد از به پایان رسیدن مدت معینه با تمام تأسیسات آن به شاروالی کابل سپرده می شود.





# لیدنې او
# سفرونه



# د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړپوړي دولتي پلاوي په گلخانه ماڼۍ کې له ازبیکستاني لوړ رتبه هیئت سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړپوړي دولتي پلاوي د ازبیکستان د ملي امنیت شورا سلاکار او په بهرني سیاست کې د دغه هېواد د ولسمشر ځانگړي استازي عبدالعزیز کاملوف په مشرۍ له راغلي پلاوي سره په گلخانه ماڼۍ کې وکتل. په لیدنه کې د دواړو لورو ترمنځ پر سیاسي، اقتصادي، سوداگریزو، ترانزیټي، اوسپنې پټلۍ او برېښنا پروژو په اړه هراړخیزې خبرې وشوې. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال وویل، د ۱.۱.۱ د تېر دوو کالو پر مهال له ازبیکستان سره په سیاسي او اقتصادي برخه کې ښې اړیکې درلودې او ۱.۱ د دغو اړیکو د لا پراختیا لپاره هڅې کوي. محترم ملا صاحب زیاته کړه: «افغانستان د جنوبي او مرکزي اسیا هېوادونو ترمنځ د پَله حیثیت لري او که له دغه ستراتیژیک موقعیت څخه ښه استفاده وشي، دا به د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ په سوداگرۍ او ترانزیټ کې مهم رول ولوبوي. زه باور لرم چې افغانستان او ازبیکستان خپلو اړتیاوو او شته فرصتونو ته په کتو په سیمه کې دوه اغېزناک اقتصادي شریکان جوړېدای شي.» د ازبیک پلاوي مشر عبدالعزیز کاملوف وویل، دوی په نړیوالو فورمونو او غونډو کې له افغانستان څخه ملاتړ کړی دی او په هر حالت کې یې د افغانستان د گټو خوندي کولو لپاره هڅې کړې دي. ښاغلي کاملوف زیاته کړه، دوی پر ډېرو بنسټیزو پروژو سربېره چمتو دي چې د قوش‌تېپې له کانال څخه د اعظمي گټې اخیستلو په موخه له اسلامي امارت سره د خپلو تخنیکي ټیمونو په واسطه گډ کار او همکاري وکړي. ازبیک پلاوي زیاته کړه: «ازبیکستان چمتو دی چې د نړیوالو نورمونو په مراعاتولو او له پرمختللې ټکنالوژۍ په استفادې له آمو سیند څخه د اوبو حق اخیستلو او په بشپړ ډول د افغانستان امتیازاتو او حقوقو ته په پاملرنې له اسلامي امارت سره د قوش‌تېپې کانال د بشپړولو په اړه کار وکړي.» محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ازبیک لوري ته ډاډ ورکړ چې قوش‌تېپې کانال به د افغانستان او ازبیکستان تر منځ دوه اړخیزې اړیکې پیاوړې او دغه دوه گاونډي هېوادونه به لا سره نږدې کړي. د محترم ملا صاحب په خبره اسلامي امارت چمتو دی چې د یو گډ تفاهم له لارې دغه حیاتي پروژه سرته ورسوي. د ناستې په پای کې دواړو لورو هیله څرگنده کړه چې دغه ډول ناستې دې دوامداره شي او د دواړو هېوادونو د مشترکو گټو لپاره دې پکې مثبت پرمختگونه رامنځته شي.

## محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء

# به ولایات فراه و هرات سفر نمود


> معاون اقتصادی ریاست الوزراء در خطاب به مردم فراه گفت که به خاطر رسیده‌گی به مشکلات شما افتتاح و اکمال پروژه های بزرگ مانند بند بخش آباد مسؤلیت ما است و امارت اسلامی سعی کامل می نماید که در این راستا تمامی نیازمندی های شما را رفع نماید.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء نخست به ولایت فراه و سپس به هرات سفر نمود. در این سفر معاون اقتصادی ریاست الوزراء را ملا عبداللطیف منصور وزیر آب و انرژی و شماری از مسؤلین بلند رتبه دولتی همراهی می نمودند. محترم ملا صاحب در روز نخست سفر خویش اعمار تونل های بند بخش آباد را واقع ولسوالی بالا بلوک افتتاح نمود. محترم ملا صاحب بند بخش آباد را برای مردم ولایت فراه یک پروژه مهم و حیاتی دانسته و جهت تکمیل آن برای آنان اطمینان داد. معاون اقتصادی ریاست الوزراء در خطاب به مردم فراه گفت که به خاطر رسیده‌گی به مشکلات شما افتتاح و اکمال پروژه های بزرگ مانند بند بخش آباد مسؤلیت ما است و امارت اسلامی سعی کامل می نماید که در این راستا تمامی نیازمندی های شما را رفع نماید. محترم ملا صاحب از قربانی های بی شمار مردم فراه در حصهٔ رویکار آمدن نظام اسلامی قدردانی نمود و اطمینان داد که برای مساعد ساختن زنده گی مرفه مردم این ولایت از تمامی امکانات دست داشته در حصهٔ تکمیل کار باقیمانده بند بخش آباد استفاده خواهد کرد. بند بخش آباد با داشتن کانال به طول ۵۰ کیلو متر از جناح راست و ۵۲ کیلو متر از سمت چپ ظرفیت آبیاری ۶۸ هزار و ۵۹۰ هکتار زمین را دارد، همچنان ظرفیت تولید ده ها میگاوات برق را دارد که کار آغاز شده آن در آینده نزدیک تکمیل و به بهره برداری سپرده خواهد شد.



محـترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء با هیئت همراه شـان در روز دوم سـفر خود عازم ولایت هـرات گردیـده و در آن جـا از کارخانه قالین سـازی دیدن نمودند. محترم ملا صاحـب پیرامـون کیفیـت تولیـدات، بازاریابـی، طریقه سـهل صـادر نمودن محصولات آن ها به خارج از کشور و سایر مشـکلات موجـوده بـا ایشـان صحبت نمـود. محترم ملا صاحب از فعالیت ها و کارکرد های این سرمایه گذاران و صنعت کاران در عرصه مسـاعد سـاختن زمینه کار برای مردم، توسـعه صنعت داخلی و همچنان سـهم گیـری آنان در توسـعه اقتصادی کشـور تحسـین نمود. محترم ملا صاحب از جانب امارت اسـلامی در حصـۀ حل مشـکلات موجوده، مسـاعد سـاختن سـهولت ها و همـکاری همه جانبه در هر بخش برای شـان اطمینان داد. مسؤلین شرکت قالین سازی افغانی در هـرات حیـن ملاقـات بـا معـاون اقتصادی ریاسـت الوزراء ابراز خرسندی نمـوده گفتند که با رویـکار آمدن امارت اسـلامی امنیـت تأمین گردیـده، مالیه بالایشـان کاهـش یافتـه، در صـادرات محصولات شان با نام و نشان افغانستان تسـهیلات فراهم گردیده و به بسیاری از مشکلات شان به اسرع وقت رسیده گی صورت گرفته است. آنها بار یگر اطمینان دادند که در بازسازی اقتصادی کشور با امـارت اسـلامی از صـدق دل دوش به دوش ایسـتاد خواهند بود و خرسند اند کـه امـروز جهت آبـادی کشـور رهبران صـادق و متعهـد دارنـد. محتـرم مـلا عبدالغنی برادر آخند در روز سـوم سـفر خـود بـا مسـؤلین قـول اردوی ۲۰۷ الفـاروق ملاقات نمـود. در این ملاقات والـی هـرات، مولـوی نصراللـه مطیـع قومانـدان قـول اردوی ۲۰۷ و الحاج ملا عبدالشـکور بریالی معاون این قول اردو حضور داشـتند. محترم مـلا صاحب از تلاش های مسـؤلین قـول اردوی ۲۰۷ جهـت تأمیـن امنیـت کامـل زون غرب کشـور قدردانی نمـوده و برای ایشـان جهـت تأمیـن هـر چـه بیشـتر امنیت هدایات لازم داند. مسوولین قول اردوی زون غـرب ۲۰۷ الفـاروق بـه محترم ملا صاحب اطمینان دادند که با تمام توان و خلوص نیت در تأمین امنیت سـعی می نمایند و نمی گذارند تا دشمنان اسلام و افغانهـا امنیت به وجود آمده در این زون را مختل سـازند. محترم مـلا عبدالغنی بـرادر آخنـد معـاون اقتصادی ریاسـت الوزراء پس از سـفر سـه روزه خویش به ولایـت هـای فـراه و هـرات عـصر روز دوشنبه به کابل برگشتند.





# محترم ملا عبدالغني برادر اخـوند
## د ترکيې د بهرنيو چارو له وزير سره وکتل

د ا.ا.ا د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ پلاوی د روان لمريز کال د اسد مياشتې په ۱۷مه نېټه له ترکي چارواکو او افغان پانګوالو سره د ليدنو په موخه ترکيې ته سفر وکړ.

محترم ملا صاحب ترکيې ته د خپل سفر په ترڅ کې د دغه هېواد د بهرنيو چارو له وزير ښاغلي هاکان فدا سره وکتل.

په دې کتنه کې دواړو لوريو د دوه اړخيزو مناسباتو، سوداګرۍ، سيمه‌ييز اتصال او دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاريو د پراختيا په باب بحث او خبرې وکړې.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د خپلو خبرو پر مهال وويل، افغانستان او ترکيه دوه دوست او د اوږدو تاريخي اړيکو درلودونکي هېوادونه دي او بايد له يو بل سره ښې سياسي او اقتصادي اړيکې ولري.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په دې ليدنه کې له ترکيې سره د سوداګريزو اړيکو پر پراخوالي، د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ ګډو خونو پر جوړېدو، د دواړو هېوادونو ترمنځ د هوايي دهلېز پر پرانيستلو، د ترکي پانګوالو له لوري په افغانستان کې د پانګونې پر زياتوالي او افغانانو ته د ويزو په ورکړه کې د لازمو آسانتياوو برابرولو په اړه هر اړخيزې خبرې وکړې.

همدارنګه د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال له ترکي چارواکو وغوښتل چې په دې هېواد کې له مېشتو افغان مهاجرينو سره ښه سلوک وکړي.

د ترکيې د بهرنيو چارو وزير ښاغلي هاکان فيدان د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ته د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ پراختيا او په افغانستان کې د ترکي پانګوالو له لوري د پانګونې د هڅونې ډاډ ورکړ او زياته يې کړه چې په دې اړه به اړوندې ادارې په ګډه سره کار وکړي.



# د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال

## د ترکیې د بهرنۍ سوداګرۍ له رئیس او ترکي سوداګرو سره وکتل

د ا.ا.ا د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ترکیې ته د خپل سفر په ترځ کې کې د ترکیې د بهرنۍ سوداګرۍ بورډ (DEIK) له رئیس ښاغلي نایل اولپک او یو شمېر لویو ترکي سوداګرو سره وکتل.

دغه لیدنه د استانبول ښار د ترکیې بهرنۍ سوداګرۍ دفتر په مرکزي ودانۍ کې ترسره شوه، چې ډېرو افغان او ترکي پانګوالو پکې ګډون کړی و. په دې کتنه کې پر اقتصادي او سوداګریزو موضوعاتو سربېره په افغانستان کې د پانګونې په برخه کې د شته فرصتونو په اړه هر اړخیز بحث وشو.

په دغه ناسته کې د هغو لویو ترکي او نړیوالو کمپنیو رئیسانو او استازو ګډون کړی و، چې د سیمې او نړۍ په کچه د زېربناوو جوړولو، د کانونو استخراج او پروسس، د کرنې میکانیزه کولو، د برېښنا تولید، اوسپنې پټلۍ شبکو جوړولو، د درملو او خوراکي توکو د تولید، سوداګرۍ، مخابراتو او د سیاحت په برخه کې کاري او د پانګونې اوږده مخینه لري.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د یادې لیدنې پر مهال افغان او ترکي پانګوالو ته ډاډ ورکړ چې په افغانستان کې د سرتاسري امنیت په ټینګېدو سره د پانګونې لپاره ښه زمینه برابره شوې. محترم ملا صاحب زیاته کړه چې اسلامي امارت د کانونو، کرنې، برېښنا تولید، زېربناوو، صنعت، مخابراتو، سوداګرۍ او نورو بېلا بېلو برخو کې پانګونې ته آسانتیاوې برابرې کړې او د پانګوالو بشپړ ملاتړ کوي.

په یاده غونډه کې د ګډون کوونکو کمپنیو استازو چې ډېری یې په افغانستان کې د پانګونې مخینه او تجربه لري، په افغانستان کې پانګونې ته بشپړه لېوالتیا وښوده او څرګنده یې کړه چې له شته فرصتونو به د دواړو هېوادونو په ګټه استفاده کوي.

همدارنګه د یادې لیدنې پر مهال د غونډې له ګډونوالو سره په افغانستان کې د پانګونې په برخه کې د شته فرصتونو او د ا.ا.ا له لوري د پانګونې په برخه کې د راغلو آسانتیاوو په اړه پوره معلومات هم شریک شول.

د ترکیې د بهرنۍ سوداګرۍ بورډ (DEIK) یو غیر دولتي ترکي سازمان دی چې په ۱۹۸۵ میلادي کال کې رامنځته شوی او د نړۍ په ۱۵۲ هېوادونو کې په مختلفو برخو کې د پانګونې بریالۍ تجربه لري.



## محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در جریان سفر خویش به کشور ترکیه در کنفرانس که از سوی سرمایه گذاران افغان مقیم آن کشور تدویر گردیده بود، اشتراک و سخنرانی نمود

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء در جریان سفر خویش به کشور ترکیه در کنفرانس که از سوی سرمایه گذاران افغان مقیم آن کشور تدویر گردیده بود، اشتراک و سخنرانی نمود.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند حین سخنان خویش گفت، الله متعال به افغان ها رحم نموده که از اشغال بیست ساله رهایی یافتند و چنان امنیت سرتاسری برای شان نصیب گردانید که ایشان در طول دهه‌ها آرمانش را داشتند.

محترم ملا صاحب افزود که در مدت بیست سال گذشته امنیت سر و مال افغان ها به خصوص تاجران ملی و سرمایه‌گذاران محفوظ نبود، ولی خوشبختانه با رویکار آمدن امارت اسلامی امنیت دارند و در فضای امن و مطمئن کار می کنند.

> **افغانستان مبرا از تعصبات قومی، زبانی و سمتی خانه مشترک همه افغان هاست و همه ما مسؤلیت آبادی آن را داریم.**

معاون اقتصادی ریاست الوزراء در کنفرانس تدویر شده از سوی سرمایه گذاران افغان مقیم آن کشور گفت، که با ایجاد نظام واحد مرکزی در افغانستان زمینه سرمایه گذاری نه تنها به افغان ها، بلکه برای خارجی ها نیز فراهم گردیده، که مثال بارز آن به دست آوردن قرارداد و سرمایه گذاری معدن غوریان هرات توسط افغان ها با مشارکت سرمایه گذاران اروپایی و آسیایی می باشد.

در جریان این کنفرانس محترم ملا صاحب در ارتباط به تسهیلات به وجود آمده برای سرمایه گذاران از طرف امارت



اسلامی گفت، که به منظور حمایت از تاجران و سرمایه گذاران و توسعه اقتصادی در نشست های کمیسیون اقتصادی نماینده سرمایه گذاران اشتراک می کنند، به خاطر انجام امور سرمایه گذاران و تاجران به اسرع وقت و جلوگیری از ضیاع وقت و بیروکراسی کمیتۀ مشترک متشکل از نماینده گان تمامی وزارت خانه ها تحت چتر معاونیت اقتصادی ایجاد گردیده، در بخش استخراج معادن به سرمایه گذاران داخلی اولویت داده شده، همچنان بنا بر هدایت عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله امور ایجاد بورد مشورتی اقتصادی جریان دارد، که نماینده گان تجاران و سرمایه گذاران نیز در آن حضور دارند.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در پایان نشست گفت، افغانستان مبرا از تعصبات قومی، زبانی و سمتی خانه مشترک همه افغان هاست و همه ما مسؤلیت آبادی آن را داریم. محترم ملا صاحب افزود، من از سرمایه گذاران افغان مقیم ترکیه سوال می کنم که دیگر انتظار کدام نوع شرایط و زمینه سازی را در خانه خود دارید؟! بیایید که خانه خود را مشترکاً آباد نمائیم و ملت خود را از فاجعه و احتیاج دیگران رهایی بخشیم.

# معاون اقتصادی ریاست الوزراء ا.ا.ا
# با وزیر تجارت ترکیه دیدار نمود

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء ا.ا.ا در جریان سفر خویش به کشور ترکیه با وزیر تجارت ترکیه دیدار نمود.

در این نشست طرفین پیرامون تجارت، سرمایه‌گذاری، اتصال منطقوی و انکشاف همکاری های اقتصادی میان دو کشور صحبت نمودند.

محترم ملا صاحب هنگام سخنان خویش گفت، که افغانستان و ترکیه در طول تاریخ، دو کشور دوست و برادر بوده و اکنون برای انکشاف این مناسبات زمینه فراهم گردیده و نیاز است، که هر دو طرف از آن استفاده خوب نمایند.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء در این دیدار پیرامون توسعه تجارت، سرمایه‌گذاری در پارک‌های صنعتی، انکشاف تشبثات کوچک و متوسط، بازگشایی دهلیز هوایی میان دو کشور، راه اندازی نمایشگاه ها، همکاری مشترک اتاق های تجارت دو کشور، ایجاد اتاق مشترک تجارتی و افزایش سرمایه گذاری در افغانستان از سوی سرمایه گذاران ترکی صحبت های همه جانبه نمودند.

محترم عمر بولات وزیر تجارت ترکیه به محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء پیرامون انکشاف تجارت بین دو کشور و تشویق سرمایه گذاری ترکی در افغانستان اطمینان داد و افزود که در این مورد ادارات مربوطه باهم کار خواهند نمود.

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

# د ترکیې د صنعت‌کارانو او سوداګرو د غیر دولتي ټولنې له رئیس او ترکي پانګوالو سره وکتل




د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ترکیې ته د خپل سفر په ترڅ کې د ترکیې د صنعت‌کارانو او سوداګرو د غیر دولتي ټولنې موسیاد (MUSIAD) له رئیس ښاغلي محمود اسمالي او یو شمېر ترکي پانګوالو سره وکتل

دغه لیدنه د موسیاد ټولنې د دفتر په مرکزي ودانۍ کې ترسره شوه، چې پر ترکي پانګوالو سربېره پکې د هغو لویو شرکتونو او بېلابېلو سکتورونو رئیسانو او استازیو هم ګډون کړی و، چې د ساختماني توکو، د برېښنا تولید، مخابراتو، زېربناوو جوړولو، اوبو بندونو، کرنې او لوجستیکي خدماتو وړاندې کولو په برخو کې اوږده مخینه او بریالۍ کاري تجربه لري.

د یادې کتنې پر مهال د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ترکي پانګوال په افغانستان کې پانګونې ته راوبلل او زیاته یې کړه چې په افغانستان کې د پانګونې شرایط اسانه شوي او ترکي پانګوال دې له دې فرصته پوره استفاده وکړي.

د موسیاد ټولنې مشر ښاغلي محمود اسمالي د ریاست‌الوزراء له اقتصادي مرستیال سره د یادې لیدنې پر مهال ترکي پانګوال په افغانستان کې په بېلابېلو برخو کې پانګونې ته وهڅول او زیاته یې کړه چې له دې فرصته د استفادې کولو په موخه دې ترکي پانګوال افغانستان ته لاړ شي. ښاغلي محمود زیاته کړه چې په افغانستان کې د سرتاسري امنیت په ټینګېدو سره په مختلفو برخو کې د پانګونې اسانتیاوې رامنځته شوې دي.

په دغه لیدنه کې له ترکي پانګوالو سره په افغانستان کې د پانګونې په برخه کې د شته فرصتونو په اړه هر اړخیز معلومات شریک شول او د اسلامي امارت له لوري د بشپړې همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړل شو.

د یادونې وړ ده چې موسیاد (MUSIAD) د ترکي صنعت‌کارانو او سوداګرو یوه غیر دولتي ټولنه ده، چې په ۱۹۹۰ میلادي کال کې رامنځته شوې او په ۷۲ هېوادونو کې فعالیت لري.



# مقالې

## د اقتصادي موضوعاتو اړوند

# د کابل ښار تر ځمکه لاندې اوبو کمښت؛

# لاملونه او حل‌لارې

لیکوال: فضل ولي شیراني

د اوبو کمښت د نړۍ د نورو هېوادونو په شان د افغانستان لپاره هم یوه لویه ننګونه ده. د افغانستان د سطحي او تر ځمکه لاندې اوبو کچه کال په کال د کمېدو په حال کې ده. د اوبو دا کموالی تر ډېره په ښارونو په تېره بیا کابل ښار کې ډېر محسوسېږي. دا چې د دې ستونزې تر شا کوم لاملونه شته، له دغې ستونزې څنګه ځان ایستلی شو او په ټوله کې اوبه په انساني ژوند کې څومره ارزښت لري؟ هغه موضوعات دي چې په دې لیکنه کې بحث وربانديې شوی دی.



## سریزه

